# افغان د ښمنو ته

زړه مې غواړی چې کردار دې افشاکړم
پرګنو ته ستا ناولی مخ رسوا کړم
نوکري ستا د پنجاب په د ر وازه کې
کرغیړن تور مخ ستا په آینه کې
هغه کړنه ستا وطن چې دې بربا د کړ
دغلیم پا کستا نیا نو زړه دې ښاد کړ
اور دې واچول د ننه په کا بل کې
داولس خونه دې وران کړهر محل کې
بې ګناه افغا نا ن ټول دې قتل عام کړ
په لمسون د با بریان دې په انجام کړ
ځا ن وژنې ته دې رنګ داسلام ورکړ
خپله ځان ته دې صفت داحشام ورکړ
پل پلچک د وطن دې ټول وران کړ
نا پوهي دې افغا نا نو ته روښا ن کړ
په ریښتیا چې ته جاهل حیوان صفت یې
که داعش یې یا طالب ډیر بې غیرت یې
افغا نې غیرت په تا نه لید ل کیږي
د ا فغا ن ښې په تا نه کتل کیږي
ته لاسپوڅی د پنجا ب اود عرب یې
غټ قا تل ، نا ا نسا ن او مخرب یې

په دی ورځو د راتګ مو آوازی دي
د ملا تړوستا سو خولی ډیر خوړی دي
چی ستد یوم کی ښځی بیا سنګسارکړي
خپل ناولی کړنه بیا له سر تکرار کړي
په راتګ مو افغا نی ښځی پریشا ن دي
ځکه ستا سو هر کړنه د حیوان دی
اند یښنی مو د تیګي د دوری دي
د نهضت سره ضد یت مو وجیبی دي
دیو بند کی جلا دی مو زده کړي
په قران مو قسمونه ډیر خوړلي
چی ا فغا ن بیا له سره تا روما ر کړي
پنجابیا نو ته خد مت پخپل اختیا رکړي
یو ویشتم پیړی کی غواړی امارت
دا غوښتنه را ښکا ریږی جها لت
په اوهامو وطن هیڅوخت نه جوړیږی
بی مړی وږی نس هیڅوخت نه مړیږي
مذهبیان وطن هیڅوخت نه دی جوړ کړي
پر جاهلو با ور هیڅ چا نه ده کړي
پرمختګ په علم اوپوه تر سر کیږي
هیڅ تولنه په ناپوه نه آبا دیږي
اوس دوران د تخنیک او ا نترنیت دی
عام وخا ص په طلب د نهضت دی

هغه څه چي دیوبند کی موزده کړي
د هغه اثر له کا ر ه اوس وتلی
سر که ښکته کړي یوځلی ګریوان ته
ستاسو کړنه ښکاریږی لوی شیطان ته
نه په ځوان نه په زاړه کویی رحم
نه لری له خدایه هیڅکله تاسی شرم
ستا سو کړنه د دین بر بادی دی
پاکستا ن ته خد مت مو نامردی دی
د بربرو ا ند ییښنی لری په سر کي
مخ مو تورښکاریږی دخلک محضرکي
ها چی څه موصفت وه «مل» بیان کړ
حقیقت می خپل خلکو ته عیا ن کړ
***

جرمنی 2020-10-12